د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا


اوونیزه

۱۰۹ مه گڼه • پنجشنبه • د لیندۍ ۱٤مه • ۱۳۹۸




۱۱

## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په بدخشان کې د نږدې ۸۱٤ میلیونه افغانیو په ارزښت ۹ پروژې گټې اخیستنې ته وسپارلې



۱۰

### په کندهار ولایت کې د کلیوالي صنایعو ستر نندارتون پیل شو



۵

### په جوزجان کې د ۲۲.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو ۸ پروژې بشپړې شوې

# تیره اونۍ په ٥ ولایتونو کې یو ښوونځي بشپړ او د ٦ نورو کار پیل شو

۱٤/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې د فاریاب ولایت په قرغان ولسوالۍ کې د یوه ښوونځي جوړولو چارې بشپړې شوې چې په دې سره د ٤۰۰ کورنیو زده کوونکو ته د ښوونې او روزنې زمینه برابره شوه.

همدا راز تیره اونۍ په څلورو نورو ولایتونو کې د ٦ ښوونځیو جوړولو کارونه پیل شول، دا ښوونځي د کندز په دشت ارچي، د هرات په زنده جان، د ننګرهار په چپرهار او د خوست په تنیو ولسوالیو کې جوړیږي چې ۱۲، ۱۰، ۸، یا ٦ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې به ولري. ددې پروژو په ترڅ کې زرګونه کاري ورځې رامنځ ته شوې. ددې ښوونځیو په بشپړتیا سره به څه باندې ٤۲۰۰ زده کوونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.









# په میدان وردګو ولایت کې د څه باندې ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک اوبو ۲۵ ځاګانې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

۱۹ لیندۍ/۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې ملي پروګرام له لوري د میدان وردګو ولایت مرکز بهسودو ولسوالی په ښلابښلو سیمو کې د څښاک د اوبو ۲۵ ځاګانې د لاسي پمپونو تر لګولو او په اساسي بڼه تر رغول کېدو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې، د یادو ټولو ځاګانو لګښت د کلیو دبیارغونې او پراختیا وزارت په غوښتنه د مالیې وزارت له لوري ورکړل شوي دي، چې ټولې پرې ۱۰ میلیونه، ۲۷ زره او ۹۰۰ افغانۍ لګښت شوي، چې له دې ټولګې یې لس سلنه برخه د سیمې د اوسېدونکو له لوري ورکړل شوې ده په دې سره د ۶۰۰ په شاوخوا کې کورنیو پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیداکړ، په نږدې راتلونکې کې به په یاده ولسوالۍ کې یوه بله د اوبو شبکه هم ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.





# په ننګرهار کې ۲۵۰ کورنیو ته د څښاک اوبه چمتو شوې

۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اوبو رسولو او حفظ الصحې ملي پروګرام له لوري د ۲.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په شیخ مصري سیمه کې د اوبو رسولو یوه سولري شبکه بشپړه اوګټې اخستنې ته وسپارل شوه. ددې پروژې په ترڅ کې ۱٤۷۵ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او په بشپړتیا سره یې نږدې ۲۵۰ کورنۍ د څښاک له پاکو او صحي اوبو برخمنې شوې.

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د دایکندۍ ولایت له والي سره ولیدل

۱۳۹۸/لیندۍ/۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي نن د شنبې په ورځ د دایکندۍ له والي سیدانور رحمتي سره د یاد ولایت د ستونزو د اوریدو په موخه ولیدل.

د لیدنې په سرکې د دایکندۍ والي د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له هڅو مننه وکړه، چې پروژې یې د کلیوالي خلکو په ژوند کې مثبت تغییر راوستلي دي.

ده وویل، د دایکندۍ خلک له زده کړو سره زیاته مینه لري او پرته له توپیر غواړي، چې ځوانان او نجونې یې زده کړې وکړي، په داسې حال کې چې د یاد ولایت له ٤۵۷ ښوونځیو څخه تقریباً نیم یې ودانۍ نه لري، که په شپږ زره ښوونځیو کې دایکندۍ ته هم توجه وشي، یاده ستونزه به تر ډېره حل شي.

د دې ترڅنګ د دایکندۍ والي په یاد ولایت کې د ولسي تړون ملي پروګرام نور ولسوالیو ته د غځولو او د فعالیتونو ډېرولو غوښتنې شریکې کړې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي وویل، د ٦۰۰۰ ښوونځیو د جوړولو په دوهم پړاو کې ۲۲۳ ښوونځي یاد ولایت ته په پام کې نیول شوي او د دوهم پړاو د بودیجې پیدا کولو په موخه چې ټول ۳۵۵۳ ښوونځي کیږي له نړیوال بانک سره ناستې لري.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، د یاد ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا نوي ټاکل شوي رئیس ته یې دنده سپارلي، چې د دایکندۍ مهمې اړتیاوې او د خپل ریاست د ارزونو راپور ژر شریک کړي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وویل، د لویو پروژو د پلي کولو په برخه کې هڅې کوي، چې څو کلي په یو ځای ترې ګټه واخلي.





# په جوزجان کې د ۲۲.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو ۸ پروژې بشپړې شوې

۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو، اوبه خور او حفظ الصحې ملي پروګرام له لوري د شبرغان ښارپه حسن تابین، چهار پیکال، پمپ خانې، قوچین، یکه چنار او جغسای کلیو د خواجه دوکوه ولسوالۍ په قوربقه، اریغ او منګجک کلیو او د اقچې ولسوالۍ په شیرک، شور میدان او خانقاه عربیه کلیو کې د ۲۲.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت چې ۱.٤ میلیونه افغانۍ یونیسیف نړیوالې ادارې ورکړې وې د اوبو رسولو ۸ پروژې بشپړې اوګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

د ۳۰۰ متر مکعبو په ظرفیت د اوبو شپږ خمکنۍ زیرمې (سرپټي حوضونه) چې په لاسي پمپونو سنبال دي، درې ژورې څاګانې، دوه نیمه ژورې څاګانې چې په سولر پمپ او د ۲۰ زره لیتره اوبوپه ظرفیت لوړه زیرمه لري او کور په کور د اوبو رسونې د ۱٦.۷۳٥ کیلو متره شبکې تمدیدول له دې پروژو دي.

ددې پروژو په پلي کولو سره څه باندې ٤۰۰۰ کورنیو او ۸٦۰ زده کونکو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.



# جریان کار تمدید شبکه برق شهری به ارزش ٥.٤ میلیون افغانی در سمنگان

۱۱ قوس ۱۳۹۸

کار عملی تمدید شبکه‌ی برق شهری به ارزش ٥.٤ میلیون افغانی از طرف برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای کوکه بلاق بالای ولسوالی حضرت سلطان ولایت سمنگان ۸۰ درصد پیش رفته است.

در این شبکه از ۱٤۳ پایه‌ی تی پی و اس پی جهت انتقال لین ۲۰ کیلوولت به طول ٤۲۰۰ متر و لین ۰،٤ کیلوولت به طول ۳۱٥۰ متر استفاده می‌شود. شبکه‌ی مذکور همچنان دارای ترانسفارمری با ظرفیت ۲٥۰ کیلوولت امپیر بوده که پس از تکمیل کار آن ۱۷۹ خانواده از برق شهری مستفید می‌شوند.

# په بدخشان کې د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه کرنیز کانال کار روان دي

۱۱/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د بدخشان د شهر بزرګ ولسوالۍ د ارچ خم کلي د پرمختیایي شورا له لوري د څه باندې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه کرنیز کانال جوړولو کار ۸۰ سلنه مخکې تللی. ددغه ۳ کیلو متره اوږد کانال کومې برخې چې د ړنګیدو له ګواښ سره مخامخ دي، محافظوي دیوالونه، ترناب او پلچکونه ورته په پام کې نیول شوي. ددې پروژې په ترڅ کې ۱۸٤۰ کاري ورځې رامنځ ته شوي چې تر بشپړتیا وروسته به یې د ٥۷ کورنیو ۸۰ جریبه ځمکه د اوبه خور د منظم سیستم برخه او خړوبه شي.





# د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر د بدخشان د ولایتي شورا له غړو سره وکتل

۱۱/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر مجیب الرحمن کریمي ددوشنبې پر ورځ ( ۱۱ لیندۍ) بدخشان ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه ولایت د ولایتي شورا له غړو سره ناسته درلوده، د ولایتي شوراغړو ښاغلي کریمي ته له هرکلي وروسته خپلې اړتیاوې شریکې کړې چې د سړکونو او پلونو پر جوړولو راڅرخېدلې وې، ښاغلي کریمي په ځواب کې ورته وویل (( د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت ژمن دی چې په دغه ولایت کې د سړکونو، پلونو او پلچکونو جوړولو پروژو ته لومړیتوب ورکړي، دې وزارت جمهوري ریاست ته یوه طرحه وړاندې کړې ده چې پر بنسټ به یې د ولایتونو د دویمې درجې لرونکو سړکونو جوړول هم له فواید عامې وزارته د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت ته وسپارل شي که دا طرحه تاید شي د بدخشان ټول د اړتیا وړ سړکونه به سروې شي او په ټاکلي وخت کې به جوړ شي)) د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر ژمنه وکړه چې د بدخشان د خلکو ستونزې او غوښتنې به له اړوندو پروګرامونو سره شریکې کړي او هغوي ته به دنده وسپاري چې په کره ډول یې حل لارې ولټوي.



# په سمنگانو ولایت کې د څه باندې ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه گټې اخیستنې ته وسپارل شوه

۱۱ لیندۍ ۱۳۹۸

د (۱۰ مېلیونه او ۲۷٦ زره) افغانیو په لګښت سره چې د دولت له بودیجې ورکړل شوي، د سمنگانو ولایت د دره صوف پایین ولسوالۍ په تلخ کلي کې د اوبو رسولو یوه شبکه جوړه او د خایي خلکو گټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د اوبو رسولو د یادې شوې شبکې په جوړېدو سره د څه باندې (٦۲۰) کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې. د اوبو رسولو ددغې شبکې د جوړولو په چارو کې د یوې چینې استحکام کاري، د (۸۰) متر مکعب په ظرفیت سره د یوې ذخیرې جوړول د څه باندې (۲۳ زره) متره اوږدې شبکې غځول او د اوبو په مېترونو باندې د مجهزو (۲٦۹) نل‌بندانونو نصبول شامل وو. دغه پروژه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو سولو او حفظ الصحې د پروگرام له لوري تطبیق شوه.



# د خوست ولایت په گربزو صحرا کې د ۳،٦ کیلومتره سړک چارې به ژر بشپړې شي

۱۳۹۸/لیندۍ/۱۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروگرام له لوري د خوست ولایت د تنیو ولسوالۍ دگربزو صحرا ۳،٦ کیلومتره کانگریټي سړک، چې د ۳٦ میلیونه افغانیو په لگښت جوړېږي، چارې ۹٦ سلنه مخې ته تللي او ډېر ژر به گټې اخیستنې ته و وسپارل شي او له یاد سړک به د شپږو کلیو اوسیدونکي گټه اخلي.



## په غور ولایت کې د ۲.۲ ملیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د اوبو د یوې شبکې جوړولو کار بشپړ شو.

۱۱/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۲.۲ ملیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار د غور ولایت د لعل او سرجنګل ولسوالۍ د منار شورابک کلي د پراختیایي شورا له خوا بشپړ او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وړاندې شوه. د څښاک د پاکو اوبو دغه شبکه ۱۵۷۳ـ متره اوږدوالی لري او د ۱٦ زره لیتره اوبو د یوې زېرمې لرونکې ده. د دغې پروژې تربشپړېدو وروسته د کلي ۱۰۰ کورنیو د څښاک پاکو اوبوته لاسرسي پیدا کړي دي. د یادونې وړ ده چې ددغې پروژې د جوړېدو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کارګروته په مجموعي ډول ۱۸٤۰ کاري ورځې رامنځته شوې دي.

## د کندهار په دامان ولسوالۍ کې د چک بند پروژه بشپړه شوه

۱۱/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د نږدې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت په کندهار ولایت کې د اوبو لګولو د چک بند د جوړولو پروژه بشپړه شوه. د اوبو لګولو او زیرمتون، دغه پروژه، د دامان ولسوالۍ په مجنون کلي کې جوړه او بشپړه شوه. د یادې پروژې د تطبیق پر مهال ۳۵۲ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ۲۱۰ کسه له دغې پروژې ګټه پورته کوي. دغه پروژه چې له ملي بودیجې تمویل او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام تر څار لاندې د ځایي پرمختیایي شورا له لوري تطبیق شویده د سیمې ۱۵۰ جریبه کرنیزه ځمکه یې د اوبو تر منظم پوښښ لاندې راوستې چې په دې توګه به د ځایي اوسیدونکو د کرنیزو حاصلاتو د ډېرېدو له لارې د دوي د اقتصاد په رغولو کې مثبت اغیز ولري.





# په کندهار ولایت کې د کلیوالي صنایعو ستر نندارتون پیل شو

۱۲/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د جلالتمآب رییس جمهور د هدایاتو سره سم چې په کندهار ولایت کې باید د کلیوالي متشبثینو د تولیداتو د انکشاف او پراختیا په موخه لازم اقدامات ترسره شي، په لومړي قدم کې د دې وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام له لوري د دوی د تولیداتو د بازارموندنې او پرمختیا لپاره د هېواد د اووه زونونو په کچه د کلیوالي تولیداتو ستر نندارتون په کندهار ولایت کې جوړ شو. یاد نندارتون چې د روان کال د لیندۍ میاشتې په ۱۲مه نېټه د کندهار ولایت په عینو مېنه کې رسماً د دې ولایت د والي مرستیال، سکتوري ریسانو، مدني فعالانو او رسنیو استازیو په وړاندې پرانیستل شو. په دې نندارتون کې د هېواد له ۷ زونونو څخه ۸۰تنه کلیوالي متشبثینو خپل تولیدات لکه لاسي صنایع، خوراکي توکي، زینتي توکي، زېورات...نندارې او خرڅلاو ته ایښي دي. د یادونې وړ ده، چې دا نندارتون به درې ورځې دوام وکړي او د قوس میاشتې په ۱٤مه نېټه به پای ومومي.



# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په بدخشان کې د نږدې ۸۱٤ میلیونه افغانیو په ارزښت ۹ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارلې

۱۳۹۸/لیندۍ/۱۳

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي بدخشان ته د خپل سفر په لړ کې د نږدې ۸۱٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د ترانسپورټ په برخه کې ۹ پروژې ګټې اخېستنې ته وسپارلې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په بدخشان کې په همدې تړاو جوړو شویو مراسمو ته وویل، چې په بدخشان کې ۹ سترې ترانسپورتي پروژې ګټې اخېستنې ته وسپارل شوې، چې ٤٥ زره کسان به ترې ګټه اخلي او د بدخشان په واخان ولسوالۍ کې کوچنی پامیر ته له ورغلي سړک څخه به ۶۰۰۰ کورنۍ ګټه اخلي. د دې پروژو په کاري بهیر کې ٤۰ زره کاري ورځې ایجاد شوې وې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، په دې ۹ پروژو کې د درایم په ولسوالۍ کې نږدې ۲۱

کیلومتره سړک او لس متره پل، په کیشم ولسوالۍ ۱۵ کیلومتره سړک، په فیض اباد کې ٦ کیلومتره اسفالټ سړک او ۲۱ متره پل، درایم ولسوالۍ کې ۱٤ کیلومتره سړک، په تشکان کې ٤٤ متره اوسپنیز پل او ۰،۲۵۰ کیلومتره سړک، کیشم کې ۱٤۰ متره پل، په واخان کې ۲۰ کیلومتره سړک او په واخان کې د ۳۹،۵ کیلومتره سړک جوړول شامل وو.

د ښاغلي کریمي په وینا یاد وزارت توانیدلی، چې په ۱۳۹۸ کال کې په بدخشان کې د څښاک اوبو چمتو کولو، ترانسپورټ، اوبه خور او لیتاکا پروګرام له لوري ۲۵ پروژې بشپړې کړي، چې ٦٤۰ میلیونه افغانۍ ارزښت لري او ۱۲٦ زره کاري ورځې یې ایجاد کړې وې او ۱۵۱ زره خلک ترې ګټه اخلي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وویل، د اوبو رسونې، اوبه خور، اقتصاد، ترانسپورت او انرژۍ په برخو کې د ۹۸۳ میلیونه میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۵۷ پروژو چارې روانې دي او د ۸۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱٤۲ نورې پروژې پلان شوي، چې دوه سوه زره خلک به ترې ګټه واخلي.

د یادونې وړ ده، چې د لیتاکا پروګرام چې د افغانستان او تاجکستان په سرحدي سېمو کې کار کوي، د بدخشان په شهر بزرګ ولسوالۍ کې زېربنایي، اقتصادي او خرڅلاو مرکزونه لري، چې سل زره کسان یې په مستقیمه او غیر مستقیمه بڼه له پروژو څخه ګټه اخلي.





# د پکتیا په لجه منګل ولسوالۍ کې د ۲۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د څلور کیلومتره سړک د جوړولو چارې پیل شوې

لیندۍ ۱۳ /۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو ملي پروګرام له لوري د پکتیا ولایت په لجه منګل ولسوالۍ کې د حرم کلي د نوي جوړېدونکي سړک چارې د پکتیا والي شمیم خان کټوازي له لوري پیل شوې.

دغه سړک د څلور کېلومتره په اوږدوالي او پنځه متره پلنوالي سره دګرډېز  پټان له سړک څخه نیولې تر حرم کلي پورې په خامه ډول جوړېږي چې په مسیر کې به یې د غرونو کټېنګ (پرې کولو) همواره کاري، پلچکونو او استنادي دېوالونو په پاخه ډول د جوړولو چارې هم ترسره شي.

د کلیو بیا رغونې او پراختیا رئیس فضل هادي عاصم په وینا دغه سړک د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي سړکونو د جوړولو ملي پروګرام له لوري د پنځه ویشت ملیونه افغانیو په لګښت د حرم کلي د دوو پرمختیایي شوراګانو په لاس جوړېږي چې په اته میاشتو کې به یې چارې بشپړې شي.